## د درملو او نورو روغتیایي لګښتونو مرسته

- په سکاټلنډ، ویلز او شمالي آیرلنډ کې، نسخې د هر چا لپاره وړیا دي. په انګلستان کې، نسخې د سرطان اړوند د هرڅه لپاره یا یې د اغېزو لپاره وړیا دي. تاسو اړ یاست یوه فورمه ډکه کړئ چې کولای شئ د خپل ډاکټر څخه یې ترلاسه کړئ.

- په سکاټلنډ، ویلز او شمالي آیرلنډ کې، مصنوعي ویښته او د پوښاک ملاتړ په NHS کې وړیا دی. په انګلستان کې، دا د ځینو خلکو لپاره وړیا دي چې په دې کې تر 16 کلونو د ټیټ عمر لرونکي ماشومان او هغه خلک شامل دي چې د ټیټ عاید لرونکي دي. د ډېرو معلوماتو لپاره خپل د سرطان له ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ.

- د NHS د ټیټ عاید پروګرام د ټیټ عاید لرونکو خلکو سره مرسته کوي چې خپل روغتیایي لګښتونه تادیه کړي. په دې کې د غاښونو د درملنې مرسته، د سترګو آزموینې او د درملنې د ترلاسه کولو لپاره د سفر مرسته شامله ده. دا د NHS له خوا یا په شمالي آیرلنډ کې د روغتیایي د روغتیایي خدماتو له خوا مخ ته وړل کېږي.

## د والدینو لپاره ملاتړ

- تاسو ښایي وکولای شئ د ماشومانو د مراقبت ځینې لګښتونه له حکومت څخه ترلاسه کړئ. په دې کې ممکن د ماشومانو وړیا مراقبت، یا د ماشومانو د مراقبت لپاره ځینې پیسې شاملې وي. تاسو کولا شئ د ملاتړ د بېلابېلو ډولونو په اړه چې په **childcarechoices.gov.uk** کې شتون لري معلومات ترلاسه کړئ او تاسو همدارنګه ممکن وکولای شئ د ماشوم د مراقبت په لګښت کې له خیریه بنسټونو یا محلي شورا څخه مرسته ترلاسه کړئ.

- که تاسو په ښوونځي کې کوم ماشوم لرئ، هغوی ښایي وکولای شي د ښوونځي وړیا خواړه ترلاسه کړي. که ستاسو عاید ټیټ وي، تاسو همدارنګه کولای شئ د ښوونځي د جامو او ښوونځي د پېرودلو او ښوونځي ته د تګ راتګ د سفر لپاره مرسته ترلاسه کړئ. د ډېرو معلوماتو لپاره خپله محلي شورا وپوښتئ.

## مرستې او پورونه

- **د Macmillan مرستې** کوچنی دي، د هغو خلکو لپاره یو ځلي تادیات دي چې د سرطان له امله د اضافي لګښتونو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري. په دې کې ښایي اضافي جامې یا د کور د ګرمولو د بېلونو تادیه شامله وي. د Macmillan مرستې د هغو خلکو لپاره دي چې د عاید او سپما کچه یې ټیټه وي. دا په دې مانا ده چې:

  - تاسو تر 6,000£ لږ سپما لرئ که مجرد یاست، او که جوړه یا کورنی یاست د سپما کچه مو تر £8,000 ټیټه وي.

  - تاسو د کرایې، ګروئ او د شورا له مالیې وروسته په مجموع کې ټیټ عاید لرئ. دا په دې مانا چې په اونیز ډول د مجرد کس لپاره 323£ عاید یا د جوړې یا د دوه کسیزه کورنی لپاره په اونی کې £442 عاید.

- تاسو همدارنګه ښایي وکولای شئ له نورو سازمانونو څخه مرستې او پورونه ترلاسه کړئ. د بېلګې په توګه، خیریه بنسټونه او ستاسو محلي شورا ممکن وکولای شي مرسته وکړي.

